# د کره کتني اخلاق او اصول

**لیکوال:**
سید حسن اسلامي
**ژباړه او زیاتونه:**
فضل الرحمن مهذب علیزی

د کره کتنې اخلاق او اصول

لیکوال: سید حسن اسلامي  ژباړه او زیاتونه: فضل الرحمن مهذب علیزی

# The Ethics and Principles of Criticism

Assistant Professor Fazal Rahman Muhazab Alizai

2023

ISBN 978-9936-661-72-1
9 789936 661721

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د علومو اکاډمي**

**د ژباړې مرکز**

# د کره کتنې اخلاق او اصول


**لیکوال:**

سید حسن اسلامي

**ژباړه او زیاتونه:**

فضل الرحمن  مهذب علیزی

**د کتاب ځانګړنې**

**د کتاب نوم:** د کره کتنې اخلاق او اصول

**د کتاب اصلي نوم:** اخلاق و آیین نقد

**لیکوال:** سید حسن اسلامي

**ژباړه او زیاتونه:** څېړندوی فضل الرحمن مهذب علیزی

**ایډیټور او مهتمم:** څېړندوی یاسر پاچا سادات

**ډیزاین:** محمد مجتبی همایون

**د چاپ کال:** ۱٤۰۲ل / ۱۴۴۵ هـ ق

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ ځای:** بهیر مطبعه

ISBN : ۱- ۷۲- ٦٦۱- ۹۹۳٦- ۹۷۸

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**


د مرکز نظر.............................................................أ
د کره کتنې مینوالو ته د زوی زېری ........................................ج
ګټور کار او په زړه پورې ژباړه..............................................ز
دا ژباړه او څو خبرې.......................................................ط
سریزه.......................................................................۱


## لومړۍ برخه

## د کره کتنې بنسټونه


۱ـ کره کتنه د لیکنې انګازه...............................................۷
۲ـ کره کتنه او علمي پراختیا..............................................۱۶
أ. د نیمګړتیاوو په ګوته کول.............................................۱۷
ب. د اثر له لیکوال سره مرسته............................................۲۱
ج. د لیکوال او لوستونکي ترمنځ اړیکه ټینګول..............................۲۴
د. د علم او سالمې پوهې د حریم ساتنه....................................۲۶
۳ـ کره کتنه څه شی ده؟...................................................۲۹
۴ـ آیا کره کتنه یوه اخلاقي کړنه ده؟........................................۴۱
أ. د کره کتنې د اخلاقو په اړه شکونه......................................۴۱
ب. د کره کتنې د اخلاقیتوب دفاع.........................................۴۶
ج. د کره کتنې اخلاقي دندې...............................................۵۲
۵ ـ د کره کتنې اخلاق......................................................۵۳
أ. مسؤلانه ټاکنه.............................................................۵۷

ب. مسلکیتوب........................................ ٦٠
ج. پراخه او جدي مطالعه........................................ ٦٣
د. سـمه پوهېدنه........................................ ٦٨
ه. پـوهه او مسلکي کره کتنه........................................ ٧٢
و. سم او کره تفسیر........................................ ٧٦
ز. د متن په شاوخوا راچورلېدل........................................ ٨٠
ح. د کره انځور وړاندې کول........................................ ٩٠
ط. مخاطب ته درناوی........................................ ٩٦
ي. د ژبـې او الفاظو ښکلا........................................ ٩٧
ك. غور او روڼتیا........................................ ١٠٨
ل. رښتیـنولي، امانت او زړورتیا........................................ ١١٥
م. د فـکر پراخوالی........................................ ١١٨
ن. حوصله لرل او په مسلکي ډول د نیمګړتیاوو راسپړل........................................ ١٢١

## دویمه برخه

## د کره کتنې اصول

١ ـ د تألیفي لیکنو د کره کتنې اصول........................................ ١٢٧
أ. د کره کتنې لپاره مناسب اثر ټاکل........................................ ١٢٩
ب. د اثر روښانه انځور وړاندې کول........................................ ١٣٠
ج. د یوه اثر د کره کتنې د ډول ځرنګوالی........................................ ١٣٢
د. د عنوان او کلي بحث ترمنځ د تناسب څېړل........................................ ١٣٦
ه. د دلیل او مدعا تر منځ د تناسب څېړل........................................ ١٣٧
و. د سرچینو سنجول........................................ ١٣٩

ز. د استناد د سموالي څېړل............................................................ ۱۴۳
ح. د بيا ويلو ځلور خواوې څېړل........................................................ ۱۴۴
ط. د احاديثو د باوريتوب څېړل......................................................... ۱۴۷
ي. د اختلافي مواردو څېړل............................................................. ۱۴۹
ك. د اخيستنو څېړل..................................................................... ۱۵۰
ل. د مخكينو آثارو د مراجعې مسايل څېړل............................................ ۱۵۱
۲ـ د ژباړل شويو آثارو د كره كتنې اصول.............................................. ۱۵۲
أ. ټاكل شوی سرليک...................................................................... ۱۵۴
ب. د كتاب له دننه عنوان سره د پښتۍ د عنوان توپير................................ ۱۶۱
ج. د كتاب له پښتۍ څخه د ليكوال د نامه لرې كول.................................... ۱۶۱
د. د اصلي متن د ځانګړنو لرې ول....................................................... ۱۶۲
ه. اصلي متن پر خپل ځای اوړل.......................................................... ۱۶۴
و. جوړښت ته بدلون وركول............................................................... ۱۶۴
ز. زياتونې او كمونې...................................................................... ۱۶۶
ح. د بلې ژباړې شته والی................................................................. ۱۶۹
ط. د ژباړې سموالی....................................................................... ۱۷۰
ي. د ژباړې نثر............................................................................ ۱۷۲
۳ـ د كره كتنې كره كتنه (د كره كتنې ځوابونه)......................................... ۱۷۵
أ. اخلاقي تېروتنې......................................................................... ۱۷۷
ب. د منځپانګې فقر........................................................................ ۲۰۳
ج. د جوړښت كمزوري...................................................................... ۲۰۴
**مأخذونه**............................................................................... ۲۱۳

# د مرکز نظر

موږ د ارتباطاتو په زمانه کې ژوند کوو او ترجمه د ارتباط او مفاهمې یوه مهمه وسیله او طریقه ده. همدارنګه د دې وسیلې او طریقې په مرسته د علومو او فنونو زېرمو او سرچینو ته لاره پیدا کوو او معرفت حاصلوو. څرنګه چې د ژباړې فن د بشري ټولنو له جوړېدا سره سم پیل شوی او د دوی له غوښتنو سره په تړاو یې انکشاف کړی، نو دې ټکي ته په پام، په هېواد کې د اسلامي امارت تر قیام وروسته د علومو اکاډمۍ په چوکاټ کې د ژباړې مرکز ایجاد شو. هدف یې دا دی، چې د هېوادوالو علمي، فرهنګي او تخنیکي اړتیاوو ته په کتو د علومو، فنونو او ټکنالوژۍ د بېلابېلو ډګرونو اړوند اړین او زبده آثار د هېواد ملي او رسمي ژبو ته راواړوي او خپاره یې کړي.

د علومو او فنونو وده او پرمختیا د پوهې په راخپلولو کې د بشر د پرله-پسې هلو ځلو او تجربو نتیجه ده، چې د نړۍ تر ټولو غوره علمي او فرهنګي میراث بلل کېږي او د نړۍ فرد فرد ته په کار دي، چې پکې ونډه ولري. د دغې ونډې د جوتونې یوه نېغه او آسانه لار د نورو له تجربو څخه استفاضه او استفاده ده. د ژباړې مرکز غواړي، چې له دغې لارې څخه په ګټه د دغو او دې ته ورته نورو علمي او فني آثارو د ژباړې او خپراوي پر مټ د خپل دین، وطن او ثقافت د ودې او پرمختیا په هڅه او هاند کې خپله ملي او اسلامي فریضه ادا کړي.

د ژباړې مرکز ویاړي، چې د ایجاد له وخته یې تر اوسه په لسګونو علمي او تخصصي آثار د هېواد ملي او رسمي ژبو ته را اړولي او خپاره کړي دي او دا دی، د دې علمي او تخصصي اثر ژباړې او خپراوي سره د علم او معرفت د

تعمیم او ترویج په لاره کې یو بل مهم او مستحکم گام اوچتوي. مرکز د ژباړن، مصحح او مهتمم مننه کوي، چې د دې اثر د ژباړې، تصحیح او اهتمام کار یې په پوره لېوالتیا، مینې او اتقان سره ترسره کړی دی.

د ژباړې مرکز د اسلامي، بشري او طبیعي علومو، فنونو او نورو مؤثقو معلوماتي آثارو د ژباړې، تصحیح، اهتمام، طباعت او اشاعت د چارو د بهبود لپاره د هېواد دننه او له هېواده بهر د ژباړونکو مشورې او همکارۍ ته د قدر په سترگه گوري او ژمنه کوي، چې د دوی ژباړلي آثار به خپلو وسیلو او امکاناتو ته په پام په لوړ معیار او کیفیت چاپ او خپروي. هیله ده، چې درانه لوستونکي د مرکز د ژباړل شوو او خپرو کړو آثارو د بډاینې او بهبود په اړه خپل نظرونه، وړاندیزونه او سپارښتنې له مرکز څخه ونه سپموي.

په درنښت

د ژباړې مرکز

# د کره کتنې مينه والو ته د زوی زېری

د پښتو ادب د ننني پېرۍ يو ژور ليدي او تاند اندې نقاد استاد نجيب منلي د کره کتنې د اوږده او ساره په اړه يوه ټولمنلې روپۍ وړه، خو په تول پوره خبره لري چې:«له بده مرغه په افغانستان کې نقد ډېر کم دی او يا نشته. زموږ نقد يا تقريظ دی او يا تخريب، د دواړه عندي (چارې) دي، د هر شخص خپل نظر دی او هر(څوک) د خپل نظر پر اساس ارزونه کوي. د ارزښتونو تعريف نشته چې د ارزښتونو تعريف نه وي، نو طبعاً مشکله ده چې سړی جوړوونکی(رغنده) نقد وکړي» (سپېده ۱۳۹۵ / ۱۲ ګڼه)

د استاد منلي خبره دا ځانګړنه لري چې که پر لوټه يې هم را کاږي، خو د کاڼې کرښه شي. خو په خپل ځاني پرې خپله خبره د ليکلو جوګه نه ګڼم، خو کېدای شي ځينې ژور ليدي نقد پوهان د حمزه د خولې دا خبره وکړي چې په دې حکم او ارزونه کې د بشري ارتقا د ډب کولو څه قنوطيت (نهيلي) سترګګونه وهي، خو زه بيا هم وايم، چې ځان ته د نظر څرګندونې حق ورکول يوه ننګوونکي سپين سترګي بولم. البته له يوې مقدمې قرآني زاويې نه پرې د لړې رڼا غورځولو توکل کوم او هغه دا چې: د نقد په ګڼو تعريفونو کې د استاد منلي تعريف په څېر له اصطلاحي منځپانګې نه د تقريظ ( بشپړې ستاينې او نه د تخريب بشپړې نړونې او ړنګونې بوي راځي)، بلکې نقد د «قرض» له مونډ نه (روهي/ د دوست پر (د ادبي تيورۍ اساسونه) په څېر يوه معتدله، ناپېيلې او عادلانه ارزونه او قضاوت، چې سپېڅلي کې په خپل معجز، بليغ او فصيح تعبير «علل» بولي او تعميل او تطبيق کې تقوای ته يوه نژدې ترينه چاره ويلې ده. قرآنکريم منکرو يهودانو ته پر قرآنکريم د انکار د جرم د دفاع په ننګونه کې

فرمايي:« ولا يجرمنكم  شنان .... المائده / ۸ »

د هېڅ يوه نوم ( فردي – ټولنيز)، دښمني او اختلاف، ( علمـي، سـياسي، حقوقي او کولتوري) اختلاف دې تاسې د دې جـرم پـه ارتکـاب مجـرم نـه کـړي چې د عدالت لمن خوشې کړئ. عـدل وکـړئ چـې عـدل تقـوا تـه يـوه اقربـه او نژدې ترينه چاره ده.

خوشحال بابا هم عدالت ته د قرآن لـه قـاموس نـه پـه ګتـنه او نمانځنـه د «عدالت» ورکړي الهي مقام داسې وړاندې کړی دی:

چـــې پــــه کـــــار د مملکـــــت دی
عـــــــدالت دی، عـــــــــدالت دی
عـــدل نـــور د درســـت جهـــان دی
درســـت جهـــان پـــه ده ودان دی
عـــدل خـــدای دی امـــر کـــړی
پـــه ښـــه شـــان يـــې دی نـــومړی
درتـــه وايـــم عـــدل کـــوم دی؟
چـــې تکيـــه د خـــوار مظلـــوم دی
عـــدل درســـت سره طاعـــت دی
عـــــدل واړه عبـــــــادت دی
عبـــادت د يـــــوه ځـــان دی
عـــدالت د درســـت جهـــان دی
کـــه بادشـــاه پـــه شـــپېته کالـــه
عبـــادت کـــا زمـــا لالـــــه

یــــو ســـــاعت پــــه عـــــدل تېـــر کـــــا
دا تېــــری تــــــر هغـــــه ډېــــــر کـــــا
«د خوشحال کلیات، ۸۰٦ مخ»

د ننني‌و ادبي کره کتنو په آرونو او آدابو کې د ډېرو نورو سپارښتنو پـه لړ کې پر دې ډېر زور اچول شوی چې د نقاد واکمني یواځې د خپل واک او چاپېریال «هنري او ادبي حریم» پر چورلېځ چلېږي، ځکه تر دې هاخوا د لیکوال یا هنرمن شخصي یا ځاني حریم بلل کېږي. یا په بله وینا د نقد قـاضي د خپلـې ادبي هـنري محکمـې پـه قضـاوت کـې د دومـره آزاد لاس خاونـد نـه دی چــې مـدعي( نقـاد) او یـا مـدعي علیـه (هـنرمن او ادبي پنځـونکي) پـه پلـوي او ملاتـړ ځـان تـورن کـړي او همـدا ادبي او هـنري محکمه یا نیاوتون هغه عادلانه او نقادانه دریځ دی چې سپېڅلی قرآنکریم یې تقوا ته یوه نژدې ترینه چاره بولي.

پاک رب دې وکړي چې زما د دې نا اشنا دریځ لـه ننګـونې سره سره زموږ ښاغلي کروونکي (کـره کتـونکي) د دغـو سـپېڅلو آرونـو پـه پـامنیوی ځانونه ویړواکي ټولواکان ونه بولي او د نقد هنري ژمنـو تـه پـه درنـاوي دا ادبي نقد د هنري ارزښت په دودونـه او تطبیـق د ارزښـتپالنـې شـمله کـږه کېږدي.

پاییز او وروستی عرض را نه د نورو خبرو په اوږدولو په دوړو کـې پـټ شـو، دا دی چې د دې کره کتنې د ادبي، هنري او اخلاقي ارزښتونو په ځلونه کـې د دې ارزښتناک اثر د ژباړې خاونـد د علومـو اکـاډمي د دایـرة المعـارف د ډګـر د تاند او نا ستومان لوبغاړي څېړندوی فضل الرحمن مهذب علیزي ستومانوونکې

ښېړنيزې هڅې او غورځې ما په خپلو ګنهکارو نه وای ليدلې، نـو پـه دې دومـره ستومانونکو تورو په لوستو به مې ستاسې سر خوږ، خپله کارنامه نه ګڼله.

د خپلې کولتوري ټولنې د هنري ارزښتونو د تلژواندېينې په هيله!

نمانځنه

محمد آصيف صميم

۱۴۰۲/٦/۹

# ګټور کار او په زړه پورې ژباړه

کره کتنه په ادبي برخه کې که څه هم له سیستماتیک اړخه یو نوی علم دی، خو د ارزښت له مخې ډېر لوړ ځای لري. د کره کتنې له برکته د یوه اثر پیاوړي او کمزوري اړخونه هم لوستونکي او هم په خپله د اثر لیکوال ته جوتېږي، نو ځکه ویلای شو چې د ادبي کره کتنې ارزښت په خپله تر ادبیات کم نه دی.

د کره کتنې موخه له یوې خوا د آثارو د کیفیت ارزونه او له بلې خوا د اثر د خوند زیاتوالی دی، د کره کتنې اړتیا له هغه ځایه جوتېږي، چې شاعرانو او لیکوالانو ته د خپل کار نیمګړتیاوې ور په ګوته کوي او هغوی د سمونې په برخه کې یې لاس په کار کېږي، د دې ترڅنګ، لوستونکو ته یو څرګند او صحیح درک وړاندې کوي، چې په رڼا کې یې کولی شي، د یوه اثر تیاره او نامکشوفو برخو ته ورسېږي، ښه او بد یا سم او ناسم په اړه یې پرېکړه وکړي. سربېره پر دې د نقد او تنقید په مرسته کولای شو، چې د هر عصر او مهال د شرایطو په پام کې نیولو سره، له یو اثر څخه نوي او تازه تعبیرونه او تفسیرونه وړاندې او اثر ته نوې بڼه ورکړو.

باید ووایو، چې د ادبي کره کتنې د نشتوالي په صورت کې، په ادبي ډګر کې هرج و مرج رامنځته کېږي، شعر او ادبیات په بې ډوله او بې تناسبه بڼه وده کوي، شعري او ادبي تورم هم رامنځته کېږي، هر اهل و نا اهل ادبي او شعري ډګر ته مخه کوي، چې په پایله کې یې د یوه ولس ادبیات او شعر له کړکېچ او حتا له ناورین سره مخامخ کېږي.که چېرته غواړو چې نوښتګر او جدي ادبیات ولرو، باید کره کتنې ته جدي پاملرنه وکړو. هر شاعر، لیکوال او څېړونکی باید نقد منونکی وي او په دې برخه کې په تخصصي او علمي بڼه ګامونه واخیستل شي. له دې پرته، د هرې ورځې په تېرېدو سره به زموږ ادبیات پر یو نوي ناروغۍ اخته او ان مزمن حالت ته به ورسېږي، چې هغه مهال به بیا رسېدنه ورته کلونه ـ کلونه وخت ونیسي.

د کره کتنې ارزښت او اهمیت ته په کتلو او په دې برخه کې د یوې اوږدې تجربې له تر لاسه کولو وروسته څېړندوی فضل الرحمن علیزي د یوه داسې کتاب پر ژباړلو لاس پورې کړی دی چې تر دې مخکې په پښتو ژبه کې نه لیکل شوی او نه هم ژباړل شوی دی، دا کتاب د فارسي ژبې د مشهور لیکوال حسن اسلامي(آیین و اخلاق نقد) دی. آیین و اخلاق نقد چې په پښتو کې د فارسې ژبې له عنوان سره سم د «کره کتنې اخلاق او کړنلاره» ورته انتخاب شوی، د کتاب د اصلي عنوان تومنه په ځان کې لري. دا کتاب د تالیفي آثارو او نورو آثارو د کره کتنې لپاره خورا په زړه پورې لارښوونې لري، له لوستونکي سره د آثارو د کره کتنې په برخه کې ډېره مرسته کولای شي، په بار بار لوستلو ارزي او له لارښوونو څخه یې د بېلابېلو آثارو د کره کتنې د لارو چارو په برخه کې ښه استفاده کېدای شي او پر آثارو باندې د کره کتونکو د کره کتنې د څوابونو ویلو پر څرنګوالي هم په کې بحثونه راغلي دي. دا کتاب په خپله منځپانګه کې ډېر داسې څه لري، چې په نورو کتابونو کې نه دي راوړل شوي او دې اړتیا ته په کتلو له فارسي څخه پښتو ژبې ته په ډېره روانه او عام فهمه ژبه را ژباړل شوی دی.

دا چې دغه اثر، د کره کتنې د اخلاقو او کړنلارو په برخه کې په فارسي ژبه کې له ګوتو په شمېر کتابونو څخه ګڼل کېږي او بله دا چې په پښتو ژبه کې لا تراوسه هم په دې اړه هېڅ کار نه دی شوی، نو پر همدې بنسټ پښتو ژبې ته د دغه اثر ژباړه، د ادبي کره کتنې په برخه کې یوه نوې او مهمه لاسته راوړنه او مغتنم کار ګڼم؛ هیله لرم، چې په پښتو ژبه کې د نقد او کره کتنې په برخه کې د ژورو مثبتو، ګټورو او اغېزناکو بدلونونو او پایلو لامل وګرځي.

څېړنوال خادم احمد حقیقي

د دایرة المعارف مرکز رئیس

# دا ژباړه او څو خبرې

بشري پرمختګ د پخوانيو خلکو له تجربو سره د نويو تجربو په يو ځاينې ياپخوانيو تجربو ته په انتقادي نظر له کتو وروسته د نويو تجربو له رامنځته کېدو او پراختيا ورکولو څخه سرچينه اخلي. طبيعي خبره ده چې پخوانيو تجربو ته په تنقيدي نظر کتل کېږي، د ټولنې د وګړو له اړتيا او غوښتنې سره سم به نوې تجربې او نظريې ترې تر لاسه کېږي، يعنې د بشري پرمختګ په هره برخه کې تنقيد يا کره کتنه مهمه ونډه لري، ځکه د کره کتنې له برکته په هره برخه کې اصلاح او سمون رامنځته کېږي او د پرمختګ لپاره لار هوارېږي.

د علم او پوهې د پرمختګ او پراختيا په برخه کې هم د کره کتنې له ارزښته سترګې نه شي پټېداى؛ له کره کتنې څخه په ګټنه په علمي ډګر کې پنځول شوي آثار ارزولی او نورو ته يې د قضاوت لپاره وړاندې کولای شو، ځکه کره کتنه د آثارو د تللو او ارزولو وسيله ده، دغه راز د ليکل شويو آثارو ښېګڼې او نيمګړتياوې را په ګوته کوي، له لوستونکو سره د يوه اثر په بشپړه پېژندنه کې مرسته کوي، البته يوازې له لوستونکي سره نه، بلکې د اثر له ليکوال سره هم د خپلې ليکنې د نيمګړتياوو په بشپړلو کې د مرستې ترڅنګ د خپلې ټولنې د علم او پرمختګ مسؤوليت هم ور له غاړې دی.

په کومه ټولنه او هېواد کې چې کره کتنې ته په درنه سترګه کتل کېږي، هغوی د پرمختګ ډېرو لوړو مدارجو ته رسېدلي دي، د خپلې ټولنې په بېلابېلو ټولنيزو، اقتصادي، سياسي او فرهنګي برخو کې يې بېساري پرمختګونه کړي او د نورو ټولنو د وګړو په منځ کې يې لوړ ځای او مقام موندلی دی. زموږ په هېواد کې لکه چې

ښايي د کره کتنې په برخه کې منظم کارونه نه تر سترګو کېږي، دې برخې ته پاملرنه، نه ده شوې او لا هم کره کتنې ته په ښه سترګه نه کتل کېږي. اړینه ده چې باید په بېلابېلو برخو په ځانګړي ډول د پنځول شویو آثارو د کره کتنې په برخه کې د زړه لـه اخلاصه کارونه تر سره شي او په پنځونو او څېړنیزو آثارو کې دې د شته ګډوډیو د مخنیوي لپاره منظمې هڅې وشي.

که څه هم زموږ د هېواد د پوهنتونو د ادبیاتو په پوهنځیو کې د کره کتنې په نامه مضمون تدریسېږي، استادان او محصلین له کره کتنې سره اشنا دي، خو د نظري او عملي کره کتنې د پرمختګ څرکونه ډېر تت او په نشت حساب دي. د کره کتنې تدریسي کتابونو ته نوې کتنه یا لږ تر لږه په نورو ژبو کې لیکل شویو آثاور ته سر ورښکاره کول پکار دي، خو له بده مرغه چې موږ په دې برخه کې هم پاتې راغلي یوو. د کره کتنې په نامه ډېر داسې مواد تدرسېږي، چې که تر وخت نه دي تېر،خو وخت پرې تېر دی او په ښه مو نه شي را تلای. پوښتنه دا ده چې زموږ په ټولنه کې ولې کره کتنې ته پام نه کېږي یا کره کتنه ولې په دغسې حالت او وضعیت کې ده؟ دې پوښتنې ته هر اړخیز ځواب ورکول خبره بل لوري ته بیایي، ځکه دا یوه مهمه موضوع ده چې جلا بحث او څېړنه غواړي، خو زما په اند زموږ په ټولنه کې د کره کتنې په برخه کې د لازم پرمختګ د نشتوالي لوی لامل په کره کتنه کې کې د زغم نشتوالی دی د چا د انتقاد پر وړاندې زغم او حوصله نه لرو، په دې برخه کې ډېر کار او تمرین ته اړتیا ده، چې باید ترلاسه یې کړو.

څه وخت مخکې مې د کره کتنې په برخه کې د فارسي ژبې د یوه لیکوال سید حسن اسلامي ارکاني د «اخلاق و آيين نقد» په نامه یو اثر چې په ۱۳۹۱ ل.کال په ایران کې چاپ شوی لاسته راغی، له لوستلو او مطالعې وروسته یې موضوعات ډېر

ګټور او په زړه پورې راته ښکاره شول، په پښتو ژبه کې مې تر اوسه پورې دغه ډول يو کتاب نه لوستی او نه ليدلی دی. د اثر منځپانګې او په پښتو کې د دغسې يو کتاب د لرلو اړتيا ته په کتو مې د کتاب په ژباړولو پيل وکړ؛ د الله تعالی په توفيق او د نردې ملګرو او دوستانو په مرسته مې د کتاب ژباړه پای ته ورسوله، الحمدلله!

دا کتاب په اصل کې پر دوو برخو وېشل شوی دی، هره برخه يې بيا ځانګړې څپرکي لري چې د نظري او عملي کره کتنې په برخه کې ډېر په زړه پورې او ګټور مطالب په کې راوړل شوي دي. د کتاب لومړۍ برخه پنځه څپرکي لري، په لومړي څپرکي کې د کره کتنې د پيغام او انګازې په اړه خبرې شوې دي. په دويم څپرکي کې يې د علم او پوهې له علمي پراختيا سره د کره کتنې په ارزښت او اهميت خبرې کېږي، درېيم څپرکی د کره کتنې پېژندنې او تحليلونو ته ځانګړی شوی، په څلورم څپرکي کې د کره کتنې د اخلاقو په برخه کې موجود شکونه په ډېر منطقي ډول تحليل شوي دي او په پنځم څپرکي کې هم د کره کتنې د اخلاقو پر ځرنګوالي د بحث ترځنګ د کره کتنې په وخت کې اخلاقي اصولو ته د پاملرنې لارې چارې په ګوته شوې دي.

د دې ليکنې دويمه برخه پر دريو څپرکو باندې وېشل شوې ده، چې په ترتيب سره په شپږم څپرکي کې د تأليفي آثارو د کره کتنې لارې چارې په اووم څپرکي کې د ژباړل شوو آثارو د کره کتنې لارې چارې او ځرنګوالی ښودل شوی او په اتم څپرکي کې هم د کره کتونکو کره کتنه يا کره کتنې ته د ځواب ويلو لارې چارې ښودل شوي او په دې برخه کې يو لړ اخلاق او اصول بيان شوي دي. البته دا د کتاب اصلي جوړښت دی، خو د دې کتاب د ايډېټور او مهتمم په غوښتنه او مشوره د کتاب د اصلي جوړښت د ساتنې ترځنګ، د هر څپرکي اړوند ځينې عمومي سرليکونه د

کتاب د موضوعاتو لیکلړ ته په کتو را وړل شوي دي او دا کار د کتاب د منځپانګې د لا روښانتیا په موخه شوی دی، تر څو لوستونکي وکولای شي چې ژر خپله موخنه او مطلوبه موضوع ومومي.

د دې کتاب د منځپانګې په لوستلو سره داسې فکر کېږي چې دلته په افغانستان کې لیکل شوی دی، ځکه ټولې هغه خبرې په کې راغلې دي چې د پښتو ادبیاتو د کره کتنې د بهیر له څرنګوالي سره سمون لري، د پښتو ژبې او ادبیاتو په تېره د کره کتنې په برخه کې چې څه تېر شوي یا کېږي را سپړل شوي دي. داسې ښکاري، لکه د پښتو ژبې د ادبي کره کتنې جریان باندې چې کره کتنه شوې وي، پرته له شکه موږ په خپله ژبه کې دغه ډول آثارو ته اړتیا لرو او باید په دې برخه کې شته تشه د لیکلو آثارو یا د دغسې آثارو په را ژباړلو سره ډکه کړو.

په ټوله کې دا اثر له لوستونکو سره د کره کتنې د اخلاقو او کړنلارې په پېژندلو کې مرسته کوي، موږ ته په دې برخه کې ټولې هغه لارې چارې راښیي چې عملي کره کتنې ته لار هواروي او ځینې نظریې چې په دې کتاب کې راوړل شوي، هغه په عمل کې هم پلې شوې دي، ځکه ویلای شو چې دا کتاب په حقیقت کې د نظري او عملي کره کتنې یوه ښه بېلګه ده.

د دې کتاب په وروستۍ برخه کې د ژباړل شویو آثارو د کره کتنې لارو چارو د ښودلو ترڅنګ، د ژباړې په برخه کې هم یو لړ اصولو ته اشاره شوې ده چې ژباړونکی یې د ژباړلو په وخت کې باید په پام کې ونیسي او که پاملرنه ورته ونه کړي، نو کره کتونکی حق لري، چې د نیمګړتیاوو په برخه کې یې یادونه وکړي. په دې اصولو کې یو هم د اثر د نامه او پر منځپانګه باندې د زیاتونو او کمونو خبره ده. د ژباړل شوي اثر په نوم ایښودنه کې لازمه ده چې د اثر لپاره داسې نوم انتخاب شي،

لکه په لومړۍ ژبه کې چې ورته انتخاب شوی دی؛ ځکه د اثر یا لیکنې عنوان هغه څه دی چې د کتاب د ټولې منځپانګې ښکارندویي کوي. له نېکه مرغه د دې اثر د نامه د ټاکلو په برخه کې پوره پاملرنه شوې او د «اخلاق و آیین نقد» پر ځای ورته په پښتو کې «د کره کتنې اخلاق او کړنلار» نوم غوره شوی دی.

پر ژباړه باندې د کره کتونکي لپاره یوه بله پلمه هم د اثر پر منځپانګه زیاتونې او کمونې دي، یعنې ځینې وخت ژباړن د ژباړې په وخت کې موضوع ته په کتو نور ډېر داسې مسایل راوړي چې په حقیقت کې اصله موضوع بل لوري ته بیایي یا ځینې مهمې برخې چې د اثر په منځپانګه کې خورا مهمې وي ترې حذف کړي، که ژباړونکی داسې وکړي، نو کره کتونکی حق لري چې پر ژباړلي اثر کره کتنه وکړي او دا برخه یې د ژباړې له نیمگړتیاوو څخه وګڼي، البته په دې برخه کې د دې اثر لیکوال هم دا خبره کړې ده چې د مثالونو د راوړو په برخه کې یا د ځینو هغو برخو په حذفولو کې چې هغه د خپلې ټولنې له فرهنګ او کلتور سره برابر نه وي، دې دواړو برخو کې ژباړونکی حق او صلاحیت لري چې اثر د خپلې ټولنې د لوستونکو له فکر او ذوق سره برابر کړي.

د دې ژباړې د ځینو مثالونو او حذف په برخه کې د کره کتنې اصولو ته په پام سره د فارسي ژبې د آثارو د بېلګو پر ځای د پښتو ژبې د ځینو آثارو مثالونه را وړل شوي دي، دغه راز ځینې مثالونه د ایراني ټولنې په ځانګړې ډول د مذهبي مثالونو په برخه کې زموږ ټولنې او مذهب ته په کتو ترې حذف شوي دي، البته کمونې تر دوه یا درې ځایه اضافه نه دي. د اثر د ژباړې په وخت کې د اصل کتاب د څپرکو، د موضوعاتو تسلسل او د دې ترڅنګ د منځپانګې د ژباړلو په برخه کې د امانتدارۍ اصل ته پوره پاملرنه شوې ده، نور نو «بنده تر خپله وس پړ دی.»

په پای کې له ټولو هغو دوستانو او استادانو څخه مننه کوم چې د دې ژباړې په بشپړلو کې یې په یو نه یو ډول مرسته را سره کړې ده، په تېره د پښتو ژبې له پیاوړي لیکوال او کره کتونکي استاد محمد آصف صمیم څخه (چې په هر ځل مجلس او بحث کې مې ډېر داسې څه ترې زده کړي چې بل ځای نه موندل کېږي) د زړه له کومې مننه کوم، چې د دې ژباړې کتلو او لوستلو ته یې خپل ارزښتمن وخت ځانګړی کړ، ټوله ژباړه یې ټکي په ټکي وکتله، راته اصلاح یې کړه او د ده په برکت د چاپ جوګه شوه. له خپلې درنې مېرمنې(ام الانس) څخه هم د زړه له تله مننه کوم چې په ژباړه کې د راغلیو احادیثو، روایاتو او عربي مقولو د مفاهیمو د ساده کولو ترڅنګ یې د متن د ستونزمنو ځایونو په ژباړلو کې هم په ورین تندي مرسته راسره کړې ده. همدارنګه د علومو اکاډمي د علمي غړي او د دایرة المعارف مرکز له رئیس څېړنوال خادم احمد حقیقي څخه هم نړۍ مننه چې د کتاب ژباړلو ته یې وهڅولم؛ د دې کتاب له ایډېټور او مهتمم څېړندوی یاسر پاچا څخه هم د زړه له تله مننه کوم چې کتاب یې له سره تر پایه وکتل او د ځینو برخو په اصلاح کې یې د زړه له اخلاصه هڅه او کوښښ وکړ؛ د دې ترڅنګ د علومو اکاډمۍ د ژباړې د مرکز له درانه مشر مولوی سید حمدالله هاشمي څخه هم د زړه له کومې مننه کوم، الله تعالی دې سر لوړی لري، چې د دې ژباړې د چاپولو ډاډ یې را کړ او د ده په پېرزوینه او هڅونه د چاپ په ګاڼه سمبال شو. نور نو دا تاسو او دا هم د کره کتنې اخلاق او کړنلاره!

فضل الرحمن مهذب علیزی

د دایرة المعارف د انسټیټیوټ آمر

# سریزه

د «سوریې» په حلب ښار کې د صلاح الدین ایوبي تاریخي کلا د «باب الاسد الضاحک او باب الاسد الباکی» په نامه دوه دروازې لري، د دې دروازې په ښي اړخ د یوه خندېدونکي او په کیڼ اړخ یې د یوه ژړېدونکي زمري انځورونه کښل شوي دي؛ نه پوهېږم، خو بیا هم زما شخصي- انګېرنه دا ده، هغه کسان چې له دروازې څخه بریالي وځي، خوشحاله وي او هغه کسان چې ناکام وځي، ژړاند او غمجن وي. دا دروازه، لکه «ژانوس» دوه څېرې لري. کره کتنه هم زموږ په هېواد کې دوه‌ګونې څېرې لري. د بېلابېلو مجلو له علمي سویې څخه د دې شاهد یم چې یا د یوه کتاب کره کتنې ته او یا هم د یوه مضمون د توجیه لپاره ځانګړې شوې وي، چې دا د کره کتنې روښانه څېره ده، مګر د کره کتنې یوه بله څېره بیا داسې روښانه، نه ده. په تېرو څو لسیزو کې ډېر کله د داسې بې معنا کره کتنې شاهدان هم یو، چې له هر څه سره ورته والی لري، د دغه ډول کره کتنې یوازې نوم کره کتنه وي، نور په کې د کره کتنې هېڅ اصول نه تر سترګو کېږي. یواځینی کره کتنه؛ هغه عالمانه کره کتنه ده چې د علم او پوهې د حقیقي پرمختګ لپاره تر سره کېږي. همدارنګه له کره کتنې څخه وېره، له مرګ څخه د ویرې په څېر ده، ځکه د ښاغلي «حس انوشه» په خبره: «د ځینو لیکوالو پر کتابونو باندې چې کله کره کتنه لیکل شوې ده، نو هغوی بیا له ډېرې نارامۍ څخه تر روغتون پورې رسول شوي دي.»[1]

[1] - وضعیت نقد ادبی در ایران، کتاب هفته، شماره ۲۰۴، ۳۰/ ۸/ ۱۳۸۳، ص ۱۱.

[که څه هم زموږ په هېواد کې پر مطبوعاتو او کره کتنې اووه لسیزې تېرېږي، خو بیا هم کله چې کره کتونکي یا نقاد پر تألیف یا ژباړه بانـدې کره کتنه کړې ده، نو ډېر وخت د کتاب لیکوال او ژباړن، د کـره کتـونکي دا کار یو ډول بې ادبي ګڼلې او تـرې غوښـتل شـوي دي چـې د «نقـد» او «انتقاد» یا «نقد» او «تنقید» ترمنځ توپیر ته پاملرنه وکړي.] د نقد، انتقـاد یا تنقید په برخه کې باید له دې خبرو تېرو شو چې کوم یو یې ښه او کـوم یو یې بد دی. د کره کتنیزو ادبیاتو په برخه کې مبالغه، شخصيـ کـول، د خپلې خوښې له مخې وېشل، د کره کتنې د مسایلو له جدي تحلیل څخه ډډه کول، له لیکنې څخه لیکوال ته لغم وهل، له حقیقـت څخـه تېښـته، [هغه هم د ځینو پوهانو په منځ کې] دا معنا لري چې که هر څو کره کتنه زموږ په هېواد کې دود ده، مګر بیا هم د کره کتنې په برخه کـې لـه ډېـرو ستونزو سره مخامخ یوو. که له یو څو اغېزمنو کره کتونکو څخه تېر شو، نو تر اوسه هم د لیکنې د سمې کره کتنې په برخه کې ناتوانه یوو، په یوه نه یو ډول د هجو، سپکاوي او انګېزه خـوانۍ پـه لومـه کـې لـوېږو. د علـم او پوهې د سمو او جدي بحثونو په برخه کې د یوه سم او سپېڅلي چاپېریال د رامنځ ته کولو پر ځای د یوه ناوړه او ککړ چاپېریال رامنځ ته کېـده ډېـر وینو.

په دې لیکنه کې هڅه شوې چې د کره کتنې منطق تحلیل شي، تـر څو د کره کتنې اخلاقي اصولو ته پرې ځان ورسو او اخلاقي اصولو ته یـې اشاره وشي. دلته هدف دا نـه دی چـې پـه دې برخـه کـې تـر دې مخکـې شوې خبرې بیـا تکـرار شي، بلکـې پـه دې برخـه کـې پـر پټـو پـاتې شـویو

جزیاتو بحث او خبرې کېږي او د انتقادي فرهنګ د ودې لپاره د یوه مناسب چاپېریال د تیارولو لپاره هڅه او تلاښ دی، د هغه فرهنګ د ودې لپاره چې تر زرو کالونو مخکې یې داسې آثار د تاریخي حافظې ته سپارلي دي چې تر اوسه هم درس ترې اخیستل کېږي. قلم را اخیستل او د کره کتنې په برخه کې قضاوت کول او د کره کتونکو کار نقدول، په ضمني توګه د دې معنا لري چې لیکوال د کره کتنې په برخه کې د پوهې ښتن دی او په تر سر شوي کار باندې بسنه نه کوي. په دې برخه کې قضاوت یا پرېکړه د نورو پر غاړه ده، نه د لیکوال، مګر که کوم څوک له ما وپوښتي چې:«په کوم حق، په کومه ورتیا او د کومې پوهې له مخې ځان د دې وړ بولې چې د کره کتنې د خطرونو په برخه کې ګام واخلې او د بویه او نه بویه په اړه یې خبرې وکړې؟» زما ځواب دا درې دلیله دي او ځانته په دې درېو دلایلو د خبرو او قضاوت حق ورکوم: لومړی دا چې تر درېو لسیزو زیات وخت کېږي چې په دې برخه کې مې بېلابېلې کره کتنې لوستي او لا یې هم لولم، یعنې د پنځوسمو لسیزو له کره کتنو څخه نیولې چې د ښاغلي شریعتي پر آثارو لیکل کېدې، بیا د هغو آثارو تر کره کتنو پورې چې په دا وروستیو کې ژباړل شوي دي. بل دا چې له دوو لسیزو را هیسې چې مې قلم په لاس کې نیولی، پر تألیفي او ژباړل شویو آثاور مې کره کتنې لیکلي او خپرې کړې دي. شاوخوا پنځلس کاله کېږي چې د نظري کره کتنې د مسایلو په تحلیل بوخت یم او په دې برخه کې د نظر په ورکولو مشغول یم، چې تر اوسه مې څو مقالې او یو کتاب په ۱۳۸۳ ل. کال کې «د کره کتنې اخلاق» تر عنوان لاندې چاپ او خپور

کړی دی.

په کره کتنه کې مسلسل او همېشني ليکل او تجربه، ماته د دې حق را کوي چې په خپلواکه توګه نظر څرګند کړم، د ځينو مسايلو د سمون او ناسمون په اړه پرېکړه يا قضاوت وکړم. که چېرته پورته ياده شوې تجربه او دلايل يوه پوښتونکي ته قناعت نه شي ورکولای او تر دې پرته د بل منلو وړ دليل په لټه کې وي، نو بې له دې چې نوموړی وپوښتل شي چې د کره کتنې په برخه کې د حق معيار او صلاحيت څه شي دی او څوک يې بايد وټاکي او راټول يې کړي؟ بله حل لاره نه لري.

په دې کتاب کې مې د عمومي خبرو پر ځای ډېره هڅه کړې، چې د امکان تر حده لومړی مسايل په بېلابېلو برخو ووېشم او بيا ځانګړې او عيني اشارې ورته وکړم. په دې برخه کې بېلابېلې بېلګې راوړل شوي دي چې ځينې يې د روښانه او عالمانه کره کتنې ښې بېلګې ګڼل کېږي او ځينې بيا داسې بېلګې راوړل شوې دي چې د هغو بېلګو څښتنان يې په ليدلو سره ښکته ګوري، خو د کره کتونکو لپاره دا کار ګټور دی او زده کړه ترې کولای شي. د دې برخې له ځينو مثالونو څخه په مستقيم ډول او له ځينو هغو يې په ډېر حکمت زده کړه تر لاسه کېدای شي. د دې ليکنې له پيله تر پايه پورې را وړل شوې بېلګې په ځينو برخو کې د اشخاصو حرمت او حريم ته په کتو سره، په لوی لاس سرچينې پټې ساتل شوې دي. په کومو ځايونو کې چې مو غوره او په زړه پورې بېلګې ورته پيدا کړي، هلته مو د اخځ اړ سرچينې يادونه هم کړې ده، خو چېرې چې د مأخذ يادونه د چا خبره د شرم وړ او د يوه چا د بدنامۍ سبب کېده، (د دې ليکنې له

هدف سره سم چې د سمو برخو ښودل او له منفي برخو څخه ډډه کول دي)، یوازې د بېلګو په راوړلو یې بسنه شوې ده، منابع نه دي معرفي شوي. لنډه دا چې کله مې دا احساس کړې، چې د منابعو پېژندنه د ویونکي یا لیکونکي په ګټه نه دي، هغه مې لرې کړې دي او کوم ځای چې د منابعو یادونه له بحث او د سالمې کره کتنې له پرمختګ سره مرسته کوي، د ویونکي او لیکونکي په ګټه هم وي، هلته مې معرفي کړي دي.

د دې څېړنیزې لیکنې اساسي هدف د کره کتنې په برخه کې مرسته ده، نه د مسایلو شخصي کول، چې د همدې هدف له مخې دا لیکنه په اتو څپرکو کې ځای شوې ده؛ په لومړي څپرکي کې دا څرګنده شوې ده چې کره کتنه په اصل کې د لیکنې منطقي پیغام او انګازه ده. په دویم څپرکي کې د کره کتنې کړنې په ګوته شوې دي. په درېیم څپرکي کې د کره کتنې د عیني او غیر شخصي تعریف د وړاندې کولو ترڅنګ د کره کتنې د لړۍ په اړه تحلیلونه راغلي دي. په څلورم څپرکي کې د کره کتنې د اخلاقو په برخه کې د شکونو او ابهاماتو په اړه څېړنه او تحلیلونه وړاندې شوي دي. د دې لیکنې پنځم او اصلي څپرکی د کره کتنې اخلاقو ته ځانګړی شوی دی. د دې اثر وروستي درې څپرکې هم په عمل کې د کره کتنې اصول په ګوته کوي، یعنې په شپږم څپرکي کې د تألیفي آثارو په برخه کې د کره کتنې لارې چارې، په اووم څپرکي کې د ژباړل شویو آثارو د کره کتنې لارې چارې په ګوته شوي او په وروستي یا اتم څپرکي د کره کتنو ته د ځواب ویلو لارې او اصول ښودل شوي دي.

دا ليکنه د «خانه کتاب» مؤسسې د مسؤلينو په تېره د ښاغلي علي شجاعي صائين، علي وجبي او مېرمن مژگان حقاني په هڅونه ليکل شوې ده. له دې ټولو دوستانو څخه مننه کوم، هيله لرم چې دا اثر به د نظر د خاوندانو د خوښې وړ وگرځي او په خپلو کره کتنو کې به د کره کتنې د فرهنگ دودولو ته پام، له دې برخې سره مرسته وکړي.

سيد حسن اسلامي ارکاني

۱۳۹۰ ل.کال